# بانک

د افغانستان بانک میاشتنۍ
څوارلسم کال، ۱۶۷ گڼه د ۱۴۰۰ د غویي میاشت

## بورد اجرائیوی صندوق بین المللی پول طی نشستی، نخستین ارزیابی برنامه تمدید تسهیل کریدت برای افغانستان را موفقانه خواند

# تسهیلات اخذ جواز های شرکتی صرافی:

- **مالیه ثابت:** که در تفاهم با وزارت محترم مالیه و اتحادیه صرافان نهایی میگردد؛
- **بیلانس:** لازم نیست که بیلانس خویش را به د افغانستان بانک گزارش دهید؛
- **هیئت نظار:** ضرورت به شش نفر ندارید تنها مالک جواز میتواند هیئت نظار باشد؛
- **تاریخ انقضا:** صدور جواز شرکت صرافی و خدمات پولی بدون تاریخ انقضا؛
- **افتتاح نماینده‌گی:** اعطای اجازه افتتاح نماینده‌گی ها در تمام ولایات کشور؛
- **تضمین نقدی:** عدم اخذ تضمین نقدی در قبال صدور جواز شرکتی؛
- **تضمین سر:** عدم اخذ تضمین سر بمنظور ایجاد شرکت های صرافی و خدمات پولی؛
- **فیس صدور جواز:** عدم اخذ فیس صدور جواز فعالیت، تبدیل جواز انفرادی به شرکت و ایجاد نمایندگی داخلی و خارجی؛
- **امتیاز خدمات جانبی:** اجازه عرضه خدمات جانبی (cross selling)؛
- **امتیاز نماینده‌گی خارجی:** اخذ امتیاز نماینده‌گی خارجی مانند منی گرام و ویسترن یونین؛
- **اجرای حواله جات:** اجرای حواله جات توسط نماینده در مناطق که نماینده گی فعال شرکت و سایر فراهم کنندگان خدمات پولی موجود نمی باشد و
- **سهولت در لیلام اسعار:** درخواست خرید ۵٪ از مجموع لیلام اسعار دافغانستان بانک.



## د دې ګڼې مطالب


عقد سه تفاهمنامه بمنظور تسهیل روند قرضه دهی

د افغانستان د صنایعو او کانونو خونو له پلاوی سره د افغانستان بانک ...

تدویر جلسه هماهنگی بین د افغانستان بانک و شورای همبستگی صرافان

بورد اجرائیوی صندوق بین المللی پول طی نشستی، نخستین ارزیابی ...

تدویر جلسه با نمایندگان بانک های تجارتی

مختصری در مورد تسهیلات بانکی طی سال مالی ۱۳۹۹

د پوروړو ورکړه، اقتصاې وده رامنځته کوي

په روان زیږدیز کال کې د هېواد اقتصادي حالت بېرته خپل حال ته ...

مختصری بر وضعیت اقتصادی جهان طی سال ۲۰۲۰

د کورنیو د اقتصادي ستونزو د حل لپاره طلایي ګامونه

د نړۍ تر ټولو ټیټ ارزښت لرونکي اسعار

اقتصادي خبرونه

اهمیت سرمایه انسانی در اقتصاد

له رسمي دندې سربېره، د دې چارو په تر سره کولو سره پیسې وګټئ

د ۲۰۲۱ زیږدیز کال تر ټولو شتمنې ښځې



بانک

صاحب امتیاز: د افغانستان بانک

هیئت تحریر: داکتر جهانتاب ولیزار و نصر الله ستانکزی

سردبیر: شفیق الله بارز

مدیر مسئول: یما عفیف

گزارشگران: حسیب الله نوری و عبدالحفیظ شاهین

دیزاین: خالد احمد فیضی

فوتوژورنالیست: زیرک ملیا

مسئول چاپ و توزیع: حمید الله رضایی



آدرس: د افغانستان بانک

تیلفون: ۰۰۹۳۰۲۰۲۱۰۴۷۶۱

فکس: ۰۰۹۳۰۲۰۲۱۰۰۳۰۵

پُست الکترونیکی: magazine@dab.gov.af

صفحهٔ الکترونیکی: www.dab.gov.af



شمارهٔ ثبت: ۶۵۸



مسئولیت مضامین و مقالات به نویسنده‌گان آن بر می گردد. استفاده از مقالات و تصاویر مجله با ذکر مأخذ مجاز است.




www.facebook.com/AFGCentralbank   twitter.com/AFGCentralbank   Da Afghanistan Bank-Youtube

# عقد سه تفاهمنامه بمنظور تسهیل روند قرضه دهی







۷ ثور ۱۴۰۰– د افغانستان بانک بمنظور تسهیل شرایط قرضه دهی از سوی بانک های تجارتی به صنعت کاران، تشبثات، رشد سکتور زراعت و پیشه وران امروز سه تفاهمنامۀ جداگانه سه جانبه و چهار جانبه را با اتاق صنایع و معادن افغانستان، اتاق محصولات زراعتی و مالداری، فدراسیون اتاق ها و اتاق پیشه وران و دکانداران و اتحادیه بانک های افغانستان به امضا رسانید.

طی این برنامه، ابتدا محترم اجمل احمدی سرپرست ریاست کُل د افغانستان بانک در زمینۀ نقش بانک ها در رشد اقتصادی کشور از طریق تسهیل روند قرضه دهی برای سرمایه گذاری ها و راه اندازی تشبثات کوچک و متوسط و توسعه کار و بار و انکشاف صنایع صحبت نموده، از بانک های تجارتی خواست تا در چوکات قوانین و مقررات مربوط، نقش خود را در توسعۀ اقتصادی کشور به خوبی ایفا نمایند.

سپس محترم محمد اسمعیل غضنفر رییس فدراسیون اتاق های افغانستان از طرح و ابتکار محترم اجمل احمدی سرپرست د افغانستان بانک در زمینۀ گردهم آوری اتاق ها، زمینه سازی برای رشد و توسعه هر چه بیشتر آنها و تلاش های ایشان در زمینه فراهم آوری سهولت های لازم در جهت رشد و ترقی سکتور خصوصی ابراز امتنان و قدردانی نمود.

در قسمت دیگر این برنامه محترم سالم امید رییس اتحادیه بانک های افغانستان ضمن قدردانی از نقش محترم احمدی در ایجاد هماهنگی و استحکام روابط فی مابین بانک ها و سکتور خصوصی کشور افزود که بانک ها از سیالیت خوبی برخوردار اند و آماده هر نوع همکاری در راستای قرضه دهی به سکتور خصوصی جهت رشد اقتصادی کشور می باشند.

در ادامه، محترم شیرباز کمین زاده رییس عمومی صنایع و معادن افغانستان، محترم خان محمد فروتن رییس عمومی اتاق محصولات زراعتی و مالداری و محترم نورالحق عمری رییس عمومی اتاق پیشه وران و دکانداران از کارکردهای محترم اجمل احمدی در وزارت صنعت و تجارت به خوبی یادآوری نموده و حضور ایشان را در د افغانستان بانک برای استحکام هر چه بیشتر سکتور بانکی و ایجاد روابط مؤثر فی مابین بانک ها و سکتور خصوصی ممد خوانده و از این روند استقبال نمودند.

# د افغانستان د صنایعو او کانونو خونو له پلاوی سره د افغانستان بانک د سرپرست لیدنه





۱۴۰۰کال د وري ۲۹مه ـ د افغانستان بانک سرپرست ښاغلي اجمل احمدي د افغانستان د صنایعو او کانونو خونو له پلاوي سره ولیدل او د بانکونو له لوري صنعتکارانو او د منځنیو او کوچنیو تشبثاتو لپاره د پورونو د ورکړې د آسانتیا پروګرام په اړه یې ور سره خبرې وکړې.

د غونډې په پیل کې د افغانستان بانک سرپرست ښاغلي اجمل احمدي د سوداګریزو بانکونو له لوري د پورونو د ورکړې په برخه کې د آسانتیاوو په رامنځته کولو، په خوندي، ډاډمن او بېړني ډول د مالیاتو د ورکړې لپاره د اداینو د سیستم پر بریښنایي کولو او د هېواد د اقتصاد د رسمي کولو او له فساد څخه د مخنیوي په برخه کې د یاد سیستم پر رول خبرې وکړې. نوموړي ژمنه وکړه چې په دې برخه کې به له هېڅ ډول هلو ځلو دریغ و نه کړي.

وروسته د افغانستان د صنایعو او کانونو د خونو رییس ښاغلي رحیم الله سمندر د هېواد د اقتصادي پرمختګ په برخه کې د صنعت په رول د خبرو تر څنګ د سوداګرۍ او صنعت وزارت د چوکۍ پر مهال د ښاغلي اجمل احمدي د هڅو ستاینه وکړه. نوموړي زیاته کړه هغه مهال د ښاغلي احمدي په هڅو له افغان ملي بانک سره یو هوکړه لیک لاسلیک شو چې پر بنسټ یې صنعتکارانو ته په لږې تکتانې سره پورونه برابر شول.

د افغانستان د صنایعو او کانونو د خونو پلاوي د هېواد په اقتصادي برخه په ځانګړې توګه د بانکوالۍ سکتور د پرمختګ او پراختیا په برخه کې د افغانستان بانک له سرپرست ښاغلي اجمل احمدي مننه او قدرداني وکړه او نوموړي ته یې د تقدیر دړه ورکړه.

# بورد اجرائیوی صندوق بین المللی پول طی نشستی، نخستین ارزیابی برنامه تمدید تسهیل کریدت برای افغانستان را موفقانه خواند

۱۹ جوزای – ۱۴۰۰ صندوق بین المللی پول با پخش خبرنامه ای که متصل نشست بورد اجرائیوی این صندوق در قبال ارزیابی اجراات و دستاورد های افغانستان تحت برنامه مشترک اصلاحات اقتصادی "تمدید تسهیل کریدت" برگزار گردیده بود، اجراات افغانستان را مورد تائید قرار داد. افغانستان با نیل به این هدف، اکنون کمک ۱۴۹ میلیون دالر امریکایی این صندوق را بگونه فوری دریافت خواهد کرد.

آقای میتسو هیرو فروسوا معاون اجرائیوی صندوق بین المللی پول که این نشست را رهبری میکرد، گفت که افغانستان علی الرغم مبارزه با چالش های موجود ناشی از نا امنی ها، تنش های سیاسی و دشواری های برخاسته از شیوع وایروس کرونا بازهم در تعهد خود در راستای بر آوردن اهداف از قبل تعیین شده برنامه مشترک اقتصادی با صندوق بین المللی پول ثابت قدم بوده و آنرا به خوبی مدیریت نموده است.

آقای فروسوا در حالیکه از اصلاحات اقتصادی، مدیریت برنامه های محتاطانه بیرون رفت از وایروس همه گیر کرونا و استحکام نظام مالی و بانکی افغانستان توصیف می نمود گفت که توقع داریم افغانستان به همین منوال ادامه داده و سیاست های پولی آن هنوز هم بر محور ثبات قیم داخلی طرح و اجرا شود. او در خصوص نظام مالی و بانکی کشور، بر تحکیم و تقویت هر چه بیشتر چارچوب مقرراتی و نظارتی تأکید کرده و مبارزه با پولشویی و تمویل تروریزم را حتمی عنوان کرد.

محترم اجمل احمدی سرپرست د افغانستان بانک با اشاره به ارزیابی موفقانه افغانستان از سوی صندوق بین المللی پول در امر اصلاحات مالی و اقتصادی ابراز خُرسندی نموده، تعهد سپرد تا در زمینهٔ ثبات اقتصاد کلان، اصلاحات سکتور مالی و بانکی، مدیریت موثر ذخایر ارزی، مبارزه علیه جرایم مالی، پولشویی و تمویل تروریزم، مبارزه با فساد اداری و تقویت سکتور خصوصی بمنظور ایجاد کار و رشد اقتصادی افغانستان بیشتر از پیش تلاش نماید.●

# تدویر جلسه با نمایندگان بانک های تجارتی







حمل ۱۴۰۰- محترم اجمل احمدی سرپرست ریاست کُل د افغانستان بانک با نمایندگان بانکهای تجارتی تدویر جلسه نمود. طی این جلسه پیرامون هماهنگی بیشتر بانکی، ارائه تسهیلات بیشتر در بخش قرضه ها برای تشبثات کوچک و متوسط و چگونگی اعطای قرضه ها و سایر مسایل بانکی بحث گردیده و تبادل نظر صورت گرفت.

در این جلسه محترم اجمل احمدی سرپرست ریاست کُل د افغانستان بانک از نمایندگان بانک های تجارتی خواست تا در پرتو قوانین و مقررات مربوطه تسهیلات لازم را در عرضه خدمات بانکی، قرضه دهی و سایر موارد بانکی فراهم سازند و از این طریق در پیشرفت و رشد اقتصادی کشور نقش خود را به خوبی ایفا نمایند.

باید گفت که در این جلسه نمایندگان بانک های تجارتی نیز از عرضه خدمات عالی در این زمینه اطمینان داده و یاد آور شدند که برای آن عده اشخاصیکه پلان های بهتر اقتصادی داشته باشند، در بخش اعطای قروض تسهیلات لازم را فراهم می نمایند.



# تدویر جلسه هماهنگی بین د افغانستان بانک و شورای همبستگی صرافان

۱۵ ثور ۱۴۰۰- جلسه ای تحت ریاست محترم اجمل احمدی سرپرست ریاست کُل د افغانستان بانک با رییس شورای همبستگی صرافان و تعداد کثیری از صرافان و عرضه کننده گان خدمات پولی در سالون کنفرانس های د افغانستان بانک تدویر یافت.

این جلسه بمنظور ایجاد هماهنگی بیشتر فی مابین د افغانستان بانک و شورای همبستگی صرافان، رسیده گی به مشکلات و پیشنهاد های صرافان و عرضه کننده گان خدمات پولی در پرتو قوانین و مقرره های مرتبط و تشریک مساعی در جهت میکانیزه سازی فعالیت های صرافان برگزار گردیده بود.

محترم اجمل احمدی سرپرست ریاست کُل د افغانستان بانک حین سخنرانی افتتاحیه این مجلس گفت که د افغانستان بانک بمنظور تقویه و معیاری سازی فعالیتهای صرافی و عرضه کننده گان خدمات پولی و بهبود و انکشاف فعالیتهای این سکتور، متعهد بوده و همواره در تلاش است تا زمینه های مناسب و معقولی را برای رشد سکتور غیر بانکی فراهم نماید.

متعاقباً، محترم امین جان خوستی رییس شورای همبستگی صرافان صحبت نموده و ضمن قدردانی از تلاش های سرپرست د افغانستان بانک برای میکانیزه سازی فعالیتهای صرافی در کشور، تعهد همکاری در زمینه تطبیق قوانین و مقررات را به د افغانستان بانک داده، تأکید نمودند که نقش خود را در زمینهٔ مراودات سالم پولی به خوبی ایفا نمایند.

در جریان این مجلس تعدادی دیگر از صرافان محترم نیز صحبت های داشته و نقش محترم اجمل احمدی را در سمت و سو دادن فعالیتهای سکتور غیربانکی مفید و مؤثر خوانده و از ایشان امتنان نمودند.

در پایان، محترم اجمل احمدی سرپرست ریاست کُل د افغانستان بانک به آمریت مربوط هدایت داد تا به مشکلات و پیشنهاد های سازنده ای صرافان و عرضه کننده گان خدمات پولی در پرتو قوانین و مقررات موجود رسیده گی نماید.






# مختصری در مورد تسهیلات بانکی

# طی سال مالی ۱۳۹۹

نظام بانکی کشور شامل ۱۲ بانک می باشد که از آنجمله سه بـانک دولتی، شـش بـانک خصوصی متعارف، یک بـانک اسلامی و دو فروع بانک های خارجی اند. تعداد نمایندگی های بانک ها طی اخیر سـال مالی ۱۳۹۹ در مجموع بـه ٤١١ نمایندگی در سراسر کشور می رسد.

نظام بانکی کشور در حال حاضر تسهیلات ماشـین های خودکار صرافی، ماشـین های پاس، ماشـین های سـپرده گیر نقده، کارت های اعتباری، بدهی، ای تی ام، ماستر کارت، کارت پیش پرداخت و ویب سرفر کارت را جهت سهولت به مردم عرضه میدارند.

همچنان اجرای قرضه ها، جمعاوری پس انداز ها و دیگر خدمات بانکی را برای تجار، متشبـثین و مردم جهت توسـعه کار و بار شان انجام میدهند.

»

| تسهیلات بانکی/زمان | قوس ۱۳۹۸ | قوس ۱۳۹۹ | تغییرات | فیصدی تغییر |
|---|---|---|---|---|
| تعداد نمایندگی ها | ۴۱۰ | ۴۱۱ | ۱ | ۰.۲۴ |
| ماشین های خودکار صرافی (ATM) | ۳۵۹ | ۳۸۵ | ۲۶ | ۷.۲۴ |
| محلات فروش (POS) | ۱۲۲ | ۶۷۲ | ۵۵۰ | ۴۵۰.۸۲ |
| ماشین سپرده گیر نقده (CDM) | - | ۶ | ۶ | - |
| سهولت نوع ۱۲ | ۱۰۴ | ۸۶ | -۱۸ | ۱۷.۳۱ |
| کارت اعتبار (Credit Card) | ۱،۲۹۴ | ۱،۲۸۸ | -۶ | -۰.۴۶ |
| کارت بدهی (Debit Card) | ۶۸۸،۷۶۴ | ۶۶۳،۲۰۴ | -۲۵،۵۶۰ | -۳.۷۱ |
| کارت ATM | ۲۵۲،۲۶۱ | ۳۰۰،۰۴۲ | ۴۷،۷۸۱ | ۱۸.۹۴ |
| ماستر کارت (Master Card) | ۱۱،۶۰۴ | ۲۵،۰۱۹ | ۱۳،۴۱۵ | ۱۱۵.۶۱ |
| کارت پیش پرداخت | ۲۵،۵۵۵ | ۱۱۵،۳۹۵ | ۸۹،۸۴۰ | ۳۵۱.۵۶ |
| ویب سرفر کارت (Web Surfer Card) | ۴،۶۶۰ | ۵،۳۱۹ | ۶۵۹ | ۱۴.۱۴ |
| تعداد حسابات قرضه | ۶۶،۳۰۲ | ۵۷،۲۹۳ | -۹،۰۰۹ | -۱۳.۵۹ |
| تعداد مقروضین | ۶۶،۲۲۱ | ۵۷،۲۱۸ | -۹،۰۰۳ | -۱۳.۶۰ |
| تعداد حسابات قرضه که رییس و یا معاون شرکت مقروض، خانم است | ۱۴،۲۱۰ | ۱۲،۹۱۷ | -۱،۲۹۳ | -۹.۱۰ |
| تعداد سپرده گذاران | ۴،۰۱۲،۹۲۸ | ۴،۳۲۸،۰۶۱ | ۳۱۵،۱۳۳ | ۷.۸۷ |
| تعداد حسابات سپرده گذاران | ۴،۱۳۹،۳۵۲ | ۴،۴۷۱،۹۳۶ | ۳۳۲،۵۸۴ | ۸.۰۳ |
| تعداد کارمندان داخلی و خارجی | ۹،۶۰۹ | ۱۰،۰۳۸ | ۴۲۹ | ۴.۴۶ |

طوریکه در جدول فوق دیده می شود، بصورت عموم تسهیلات بانکی روند روبه رشد را پیموده که نشاندهندهٔ تمایل بیشتر مردم در استفاده از خدمات بانکی است. در کنار آن، ارقام و احصائیه های فوق نشان میدهد که افزایش تقاضای مشتریان برای تسهیلات بانکی و ترویج فرهنگ بانکداری در کشور روبه افزایش می باشد. باید گفت که افزایش قابل ملاحظه در تعداد کارت های پیش پرداخت، کارت های ATM، POS، کارمندان و تعداد سپرده گذاران نیز گواه آن است.

## روند افزایش استفاده ازکارت های ATM طی ده سال گذشته در افغانستان

## (۱۳۹۰-۱۳۹۹)



| سالها | تعداد کارت |
|---|---|
| ۱۳۹۰ | ۷۲۰۲ |
| ۱۳۹۱ | ۸۴۶۶ |
| ۱۳۹۲ | ۲۵۱۳۰ |
| ۱۳۹۳ | ۷۰۸۰۳ |
| ۱۳۹۴ | ۱۳۱۷۹۲ |
| ۱۳۹۵ | ۱۶۹۶۸۷ |
| ۱۳۹۶ | ۱۹۲۰۴۴ |
| ۱۳۹۷ | ۲۲۶۰۶۶ |
| ۱۳۹۸ | ۲۵۲۲۷۰ |
| ۱۳۹۹ | ۳۰۰۰۴۲ |



# د پورونو ورکړه، اقتصادي وده رامنځته کوي

په دې وروستیو کې د افغانستان بانک صنعت کارانو، بزګرانو او کسبګرو ته د پورونو د ورکړې په برخه کې د آسانتیاوو د رامنځته کولو په موخه د سوداګریزو بانکونو سره د همکارۍ هوکړه لیکونه لاسلیک کړي دي.

د معلوماتو پر بنسټ د افغانستان بانک د سوداګریزو بانکونو له لوري صنعت کارانو، تشبثاتو، د کرنې سکتور د پرمختګ او کسبګرو ته د پورونو د ورکړې په برخه کې د آسانتیاوو رامنځته کولو په موخه درې ځانګړي اړخیزه او ځلور اړخیزه هوکړه لیکونه د افغانستان د صنایعو او کانونو خونو، د کرنیزو او مالدارۍ محصولاتو، د افغانستان د خونو فدراسیون، د کسبګرو او هټیوالو ټولنې او د افغانستان د بانکونو ټولنې تر منځ لاسلیک کړي دي.

«

صنعتکارانو، بزګرانو او کسبګرو ته د پورونو د ورکړې په برخه کې د آسانتیاوو رامنځته کول، اقتصادي وده رامنځته کوي او په کور د ننه د دندو زمینې برابروي.

دا مهال زموږ ډېری هېوادوال د صنعت، بزګرۍ، سوداګرۍ او نورو برخو کې په دندو بوخت دي، خو په دې برخه کې د دوی لپاره د آسانتیاوو رامنځته کول یادې برخې لا غوړوي او د پرمختګ لپاره یې لاره هواروي.

بانکونه چې د هېواد په اقتصادي وده کې خورا مهم ارزښت لري، د پورونو په برخه کې د آسانتیاوو رامنځته کول د هېواد په اقتصادي وده کې مثبت رول لوبولی شي. دا پورونه کولای شي د دندو زمینې رامنځته کړي، صنعت ته وده ورکړي، د کرنیزو محصولاتو د پراختیا لامل شي او د تشبثاتو په رامنځته کولو کې مرسته وکړي.

لکه څرنګه چې مخکې یادونه وشوه دا ډول پورونه پانګوال هڅوي چې په بېلابېلو برخو کې پانګونې وکړي او د پانګونې د پرمختګ لپاره د ډاډ وړ فضا رامنځته کړي. بلخوا که څه هم په هېواد کې له څو کلونو را په دېخوا جګړه روان دی او ډېری سوداګرو پانګې له هېواده بهر ایستلې دي، خو د پانګوالو لپاره د پانګو اچونو په برخه کې د آسانتیاوو رامنځته کول او دې برخې ته پاملرنه سوداګر هڅوي چې په کور د ننه پانګونې وکړي او له دې لارې د شغلونو د رامنځته کېدو لامل شي.

د دندو د زمینو رامنځته کېدل د هېواد اقتصادي ودې ته پرمختګ ورکوي. د دې ترڅنګ پر امنیتي، ټولنیز او سیاسي وضعیت مثبت اغېز کوي او په ټول کې د غوره راتلونکې لپاره لاره هواروي.

په همدې ډول په کور د ننه پانګې اچونې دې ته لاره هواروي چې د کورنیو صنعتي او کرنیزو محصولاتو د پراختیا لامل شي او د صادراتو لپاره زمینه برابره شي.

د معلوماتو پر بنسټ دا مهال افغانستان ډېر شمېر کرنیز او صنعتي توکي له بهرنیو هېوادونو واردوي، خو صنعتکارانو، کسبګرو او بزګرانو ته د آسانتیاوو رامنځته کول، د دې چارې مخنیوی کوي او هېواد مو له وارداتي په صادراتي بدلوي.

که څه هم له وارداتي په صادراتي د یو هېواد بدلون ډېر وخت ته اړتیا لري، خو په دې برخه کې لومړنیو ګامونو پورته کېدل دې ته لاره هواروي چې صادرات وده وکړي او د وخت په تېرېدو سره دا چاره ټاکلې موخې ته ورسیږي.

په هېواد کې امنیتي ستونزې، د پانګو کمښت او... هغه ستونزې دي چې دا مهال ډېر شمېر سوداګر، صنعتکاران، بزګران، کسبګر او هېوال ورسره مخ دي.

که یادو برخو کې د دوی لپاره لا زیاتې آسانتیاوې رامنځته شي، لیرې نه ده چې هېواد به مو اقتصادي وده وکړي او یو شمېر هغه هېوادوالو ته چې دا مهال له بېکارۍ کړېږي دندې تر لاسه کړي، کورنۍ اقتصادي وده به زیاته او ټولنیزه هوساینه به رامنځته شي.

حسیب الله نوري

د افغانستان بانک د نشراتو څانګې لوی آفیسر

سرچینې:

۱. د افغانستان بانک ویب پاڼه www.dab.gov.af



# په روان زیږدیز کال کې د هېواد اقتصادي حالت بېرته خپل حال ته راګرځي

د هېواد د اقتصادي وضعیت غوره مدیریت او په دې برخه کې د افغان حکومت هلې ځلې، د دې لامل شوې دي چې د هېواد اقتصادي وضعیت د ۲۰۲۰ زیږدیز کال د کوویډ – ۱۹ ( وبا) او بې ثباتۍ تر څېرګ نزول وروسته په روان ۲۰۲۱ زیږدیز کال کې ورغېږي او خپل حال ته را وګرځي.

د آسیا پراختیایي بانک د یو راپور له مخې چې په دې وروستیو کې خپور شوی دی وایي، تمه کېږي چې د افغانستان اقتصادي وده چې په ۲۰۲۰ زیږدیز کال کې د کوویډ-۱۹ او دوامداره تاوتریخوالي او بې ثباتۍ له امله له څېرګ نزول سره مخ شوې وه، سږ کال بېرته را ورغېږي او راتلونکي کال ته به لا څېرګتیا ومومي.

که څه هم په ۲۰۲۰ زیږدیز کال کې د نړۍ ډېری هېوادونه له اقتصادي ستونزو سره مخ شول او تر ډېرو کلونو به یې په اقتصادي برخه کې د یاد کال ټکانونه موجود وي، خو د اسیا پراختیایي بانک د ۲۰۲۱ اسیا پراختیایي شالید (ADO)کې، وړاندوینه کوي چې د افغانستان د ناخالصو کورنیو تولیداتو وده به په ۲۰۲۱ کال کې ۳ سلنه لوړه شي او په ۲۰۲۲ کال کې به د سوداګریو او بازارونو عادي حالت ته راګرځېدلو سره ۴ سلنې ته لوړه شي.

دا د افغانستان لپاره یو ښه زیری دی او ښکاروي چې افغان حکومت او اړوندو ادارو د کوویډ-۱۹ پر مهال خپلې اقتصادي چارې په ښه ډول مدیریت کړې دي او دا لامل شوی دی چې د افغانستان اقتصاد په ډېر کم وخت کې تر کوویډ-۱۹ حالت وړاندې حال ته را وګرځي.

»

د معلوماتو پر بنسټ په ۲۰۲۰ زیږدیز کال کې، د افغانستان اقتصادي وده د کوویډ-۱۹ د محدودیت اړوندو تدابیرو د روان تاوتریخوالي او سیاسي بې ثباتۍ اغېز نور هم چټک کړ چې ناخالص کورني تولیدات یې په اټکلي توګه منفي ۵ سلنه کم کړل.

په یاد راپور کې راغلي که څه هم په ۲۰۱۹ زیږدیز کال کې د انفلاسیون کچه ۲.۳ سلنه وه، خو د انفلاسیون دا کچه په ۲۰۲۰ زیږدیز کال کې ۵.۶ سلنې ته پورته شوه چې اصلي محرک یې د خوړو لوړ نرخونه ول. په ۲۰۲۰ زیږدیز کال کې د خوراکي توکو د نرخونو انفلاسیون ۱۰ سلنه اټکل شوی وو چې تر ټولو لوړه کچه یې په اپریل کې ثبت شوې وه چې د پولو تړلو او د وېرې له امله د سودا کولو دا کچه ۱۶.۶ سلنې ته پورته کړه.

اټکل کېږي چې د خوراکي توکو د عرضې په لوړېدلو سره، انفلاسیون په ۲۰۲۱ زیږدیز کال کې ۵ سلنه او په ۲۰۲۲ کال کې ۴ سلنې ته راټیټ شي.

په دې راپور کې راغلي په لیرې پرتو او ناامنه سیمو کې د واکسین د تطبیقولو، شخړې، جرمونو، اداري فساد، سیاسي بې ثباتۍ او د پولو د تړلنیز نازک حالت په څېر خطرونه لا هم موجود دي، که چېرته ځواب نه کړل شي، دا خطرونه پر اقتصاد دروند اغېز لرلی شي او د بیا رغیدنې پر وړاندې خنډ ګرځیدلی شي.

پورته ټکو ته په کتلو سره، اړینه ده چې افغان حکومت او اړوندې اداري دې برخو ته پوره پاملرنه وکړي، ترڅو د اقتصاد د بیا رغېدنې پر وړاندې کوم ستونزه رامنځته نه شي او په دې برخه کې پرمختګونه رامنځته شي.

د راپور له مخې، د وړو، کوچنیو او منځنۍ کچې شرکتونو د بیا رغیدنې ملاتړ کول چې د وبا له امله سخت زیانمن شوي دي، د کارکوونکو د عاید او معیشت د خوندي کولو لپاره ډېر اړین دي. له وبا مخکې، وړو، کوچنیو او منځنۍ کچې شرکتونو، په اټکلي توګه د ۶.۱میلیونو په شاوخوا کې د خدمتونو او صنعت دندې رامنځته کړې وې. د ۲۰۲۰ کال په اکتوبر میاشت کې، حکومت د ۲۹۵ میلیونه امریکایي ډالرو په ارزښت ۲ کلنه مرستندویه کڅوړه تصویب کړه چې د سوداګریو وضعیت لوړ کړي او د دوران پر خلاف تدابیر یې پلي کړل چې د وړو، کوچنیو او منځنۍ اندازې لرونکو شرکتونو لپاره مرسته هم په کې شامله ده.

د سوداګریز چاپېریال د ښه کېدو لپاره باید افغانستان د بېخ بنسټونو د جوړولو، امنیت ټینګولو، اداري فساد پر ضد مبارزې کولو، د مقرراتو د ساده کولو، د شتمنۍ حقونو د پیاوړي کولو او عقدونو ( قراردادونو) د پلي کولو، د نوښت ترویجولو او غوره کاري مهارتونو له لارې د وړو، کوچنیو او منځنۍ کچې شرکتونو لپاره بازارونو ته لاسرسی برابر کړي. یاد بانک وایي، کریډټ ته د لاسرسي زیاتول او د رسمي بانکي سکتور پراخول هم ډېر اړین دي.

د اسیا پراختیایي بانک د یو سوکاله، ټول شموله، او دوامداره اسیا پاسفیک ته ژمن دی، په داسې حال کې چې خورا بې وزلۍ له منځه وړلو لپاره هم خپلو هڅو ته دوام ورکوي.

باید وویل شي چې یاد بانک په ۱۹۹۶ کې تاسیس شوی، او ۶۸ غړي – ۴۹ سیمه‌ییز غړي لري.

سرچینې:

۱. د مالیې وزارت/ پنجشنبه ۱۴۰۰/۲/۹ – ۱۰:۳۹د اسیا پراختیایي بانک: له ننګونو سره سره به د افغانستان اقتصاد په ۲۰۲۱ کال کې بېرته خپل حالت ته راوګرځي https://www.mof.gov.af/index.php/ps

۲. https://tinyurl.com/yehwkpvy




# مختصری بر وضعیت اقتصادی جهان طی سال ۲۰۲۰

وضعیت اقتصاد جهان پس از رفع حالات قرنطینه در اکثریت کشور ها رو به بهبود می باشد. با توجه به اینکه وضعیت اقتصادی وابسته به دسترسی به واکسین کرونا، مؤثریت پالیسی های اقتصادی و ویژگی های بهتر ساختاری برای بهبود از حالت بحرانی میباشد؛ بهبود اقتصادی جهان به تفکیک کشورها متفاوت پیش بینی می گردد. رشد اقتصادی جهان طی سال ۲۰۲۱ در حد ۶ درصد و در سال ۲۰۲۲ در حد ۴.۴ درصد پیش بینی گردیده است.

این درحالیست که پیش بینی سال ۲۰۲۱ نسبت به پیش بینی قبلی ۰.۵ درصد افزایش یافته است که منعکس کننده مؤثریت تطبیق واکسین در اواخر سال و حمایت سیاست های اقتصادی بیشتر در چند اقتصاد بزرگ جهان و منطقه می باشد.

»


علاوه بر این، انقباض رشد جهانی برای سال ۲۰۲۰ در حد ۳.۳- درصد تخمین شده بود که ۱.۱ درصد کمتر از پیش بینی قبلی می باشد.

حجم تجارت جهانی قبل از اینکه در سال ۲۰۲۲ به ۶ درصد برسد، طی سال ۲۰۲۱ حدود ۸.۴ درصد بیشتر پیش بینی گردیده بود. علاوه بر این، انتظار می رود که تجارت خدمات با سرعت کمتری نسبت به حجم کالاها بهبود یابد، زیرا محدودیت های سیاحتی و سفرهای بین المللی هنوز بطور کامل بر طرف نگردیده و تأثیرات آن بالای رشد خدمات هنوز مشاهده می شود. به همین ترتیب، از طرف دیگر، انتظار می رود که تورم طی سال های ۲۰۲۲-۲۰۲۱ کاهش یابد.

همچنان نرخ تورم در ماه های پیش رو بیشتر پیش بینی می گردد. در یک سال گذشته، نرخ تورم بدلیل مشکلات ناشی از شیوع ویروس کرونا بطور چشمگیری کاهش یافته بود، اما این روند به مرور زمان تغییر نموده و نرخ تورم مسیر صعودی را اختیار نموده است. هر چند صندوق بین المللی پول ارقام مشخصی از پیش بینی نرخ تورم ارائه نمیدهد، اما قیمت اجزای مختلف شاخص قیمت مصرف کننده در چشم انداز اقتصادی این صندوق در مقایسه با سال قبل بیشتر تخمین گردیده است.

شکل ذیل پیش بینی رشد اقتصادی جهان به شکل مقایسوی بین سال های ۲۰۲۰ و ۲۰۲۱

پیش بینی رشد اقتصادی و چشم انداز اقتصادی جهان




| | امریکا | بریتانیا | جاپان | ترکیه | چین | هندوستان |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۲۰۲۰ | -۳.۵ | -۹.۹ | -۴.۳ | ۱.۸ | ۲.۳ | -۸ |
| ۲۰۲۱ | ۶.۴ | ۵.۳ | ۳.۳ | ۶ | ۸.۴ | ۱۲.۵ |

منبع: چشم انداز اقتصادی جهانی صندوق بین المللی پول، اپریل ۲۰۲۱



# د کورنیو د اقتصادي ستونزو د حل لپاره طلايي ګامونه

د کورنی اقتصاد، يوازې د زيات عوايد لرونکو کورنيو خبره نه ده، بلکې دا په لږ عايد لرونکو کورنيو پورې هم تړاو لري. د عايد زياتوالی د لګښتونو د زياتوالي لامل کيږي او د لګښتونو مديريت کولای شي د کورنيو د اقتصاد چلوونکي يا سرپرست د مديريت هنر څرګند کړي. د کورنيو د اقتصاد مديريت د دوی هويت څرګندوي او دا چاره کولای شي د اقتصادي ودې او د کورنيو د پرمختګ لامل شي.

په دې مقاله کې د کورنيو د اقتصادي ستونزو د هواري لپاره يو شمېر طلايي ګامونه په لاندې ډول وړاندې کيږي:

**پلان جوړ کړئ**

د کورنی د اقتصاد لپاره د پلان جوړول د اقتصادي ودې په برخه کې بنسټيز رول لري. هره کورنۍ بايد د خپلو اقتصادي چارو د پرمختګ لپاره لنډمهال، منځ مهال او اوږد مهال پلانونه ولري. هغه کورنۍ چې اقتصادي پلان نه لري، هغه بنسټ ته ورته والی لري چې خپل حال ته پرېښودل شوی وي او د پرمختګ لپاره يې څوک کار نه کوي.

د دې لپاره چې تاسو د خپلې کورنۍ اقتصاد ورغوئ او په دې برخه کې

»

پرمختګ وکړئ اړينه ده چې ټاکل شوې موخې ولرئ او يادو موخو ته د رسېدو لپاره د پلانونو له مخې وړاندې لاړ شئ. په ياد ولرئ چې ستاسو له لوري ټاکل شوې موخې بايد خيالي نه وي او هغې ته د رسېدو امکان موجود وي.

**سپما وکړئ**

سپما د کورنيو د اقتصادي رغښت لپاره بنسټيز ارزښت لري. له سپما پرته هېڅ کورنۍ نه شي کولای چې په اقتصادي ډګر کې بريا تر لاسه کړي. سپما يوازې د کورنۍ د سرپرست دنده نه ده، بلکې د کورنۍ په ټولو غړو لازمه ده چې سپما وکړي. په لنډو ټکو کې ويلای شو چې سپما د لګښتونو د تعديل لامل کېږي، راتلونکې تضمينوي او د کورنۍ د ټينګښت سبب کېږي.

**د همکارۍ روحيه**

د کورنۍ د اقتصادي ستونزو په حل کې نه بايد يوازې پلار او مور مسئول وي، بلکې اړينه ده چې د کورنۍ ټول غړي د دې ستونزو په حل کې مرسته وکړي. د کورنۍ اقتصادي پياوړتيا او جوړښت د کورنۍ د غړو تر منځ د همکارۍ په روحيه کې نغښتې دی او د کورنۍ ټول غړي بايد د کورنۍ لومړيتوبونه وپېژني ترڅو په ګډه سره ټاکل شويو موخو ته په رسېدو کې د يو او بل لاس نيوی وکړي.

**ښځه او د کورنۍ اقتصادي مديريت**

ښځې د کورنۍ د اقتصاد په مديريت کې بنسټيز رول لوبوي. ښځې په کورنۍ کې د مور په توګه د لګښتونو د اصلاح په برخه کې د ليدنې وړ کړنې تر سره کوي. که په يوه کورنۍ کې مور و نه شي کولای چې لګښتونه مديريت کړي د کورنۍ اقتصاد له ستونزو سره مخ کېږي.

**اقتصادي مشورې**

يو شمېر کورنۍ په يوازې ځان د اقتصادي ستونزو له حل ناتوانه دي او نه شي کولای په ښه ډول خپلې چارې مديريت کړي. دا ډول کورنۍ کولای شي له خپلو دوستانو، د کورنۍ له غړو او همکارانو د اقتصادي ستونزو د حل په برخه کې لارښوونه تر لاسه کړي.

**د عايد مطابق لګښت**

ځينې کسان چې ډېر کم عايد لري، د دې لپاره چې په ټولنه کې يو کاذب ځای ولري بې اړتيا پورونه اخلي، د ښار په تر ټولو ګران بيه ځايونو کې اوسېږي او يا هم ګران بيه موټر پېري چې دا يو ډېر بد عادت دی. دا ډول کسان د خپل کاذب موقعيت له کبله ډېرئ وخت د خپل ژوند لومړيتوبونه نه شي پوره کولای. نو پر همدې بنسټ اړينه ده چې د خپل عايد مطابق لګښت وکړئ، موږ او ژوند مو بايد د خپل عايد سره برابر وي او مه پرېږدی چې دا ډول بد عادت مو ژوند تريخ کړي.

**انډول ته ارزښت ورکړئ**

د کورنۍ ټول غړي خوښوي چې غوره د اوسېدو ځای، ښه خواړه، ښې جامې او... ولري، خو ډېرې کمې کورنۍ شته چې دا ډول غوښتنې پوره کړای شي او که کورنۍ اقتصادي محدوديتونه ولري د دې غوښتنو يوازې يوه برخه پوره کولای شي.

کورنۍ بايد د خپلو غوښتنو نوملړ چمتو کړي او ياد نوملړ له خپل عايد سره وګوري، ترڅو په ښه ډول د خپل عايد مطابق غوښتنې په کې ځای پر ځای کړي. په دې ترتيب، د کورنۍ پر مدير لازمه ده چې د کورنۍ د غړو تر منځ د سرچينو د وېش په برخه کې دقت وکړي.●

حسيب الله نوري د افغانستان بانک د نشراتو څانګې لوی آفيسر


سرچينې:

١ – گام های طلایی برای رفع مشکلات اقتصادی خانواده/ کد مطلب : ۲۱۷۹

۲– راه کار و گام های طلایی برای رفع مشکلات اقتصادی خانواده ((namnak.com

5 Solutions to the Biggest Financial Problems Families Face/ Published by Sarah Brooks on March 4, 2014-۳

https://www.guidevine.com/newsroom/5-solutions-biggest-financial-problems-families-face/-۴

Family Financial Problems/ By Nicole Whitney-۵

https://www.sapling.com/6383353/family-financial-problems-۶

# د نړۍ تر ټولو ټيټ ارزښت لرونکي اسعار

په نړۍ کې ډېری داسې کسان شته چې د لوړ ارزښت لرونکو پولي واحدونو له نومونو سره آشنا دي او حتی د يادو پولي واحدونو د هېوادونو په نومونو هم پوهيږي.خو د هغو هېوادونو په اړه چې د نړۍ تر ټولوټيټ ارزښت لرونکي پولي واحدونه لري او دا پولي واحدونه پر کومو هېوادونو پوري تړاو لري معلومات نه لري.

په دې مقاله کې د نړۍ د تر ټولو ټيټ ارزښت لرونکو هغو لسو هېوادونو د پولي واحدونو په اړه معلومات را غونډ شوي چې پولي واحدونه يې تر ټول ټيټ ارزښت لري.

۱ – د وينزويلا بوليوار

بوليوار د وينزويلا هېواد پولي واحد دی. دا د نړۍ تر ټولو کم ارزښت لرونکی پولي واحد ګڼل کېږي. دا مهال يوه افغانۍ ۱۶۱۷۶ بوليواره کېږي. په دغه هېواد کې د انفلاسيون د کچې لوړوالی د دې لامل شوی دی چې د پولي واحد ارزښت يې د هرې ورځې په تېرېدو سره ټيټ شي.

۲ – د ايران ريال

ايرانی ريال د ياد هېواد پولي واحد دی چې په نړۍ کې دويم ټيټ ارزښت لرونکی پولي واحد شمېرل کېږي. دا مهال يوه افغانۍ ۵۴۵ ايراني رياله کېږي. په ۲۰۱۲ زېږديز کال کې پر ايران د بنديزونو ترلګېدووروسته د ياد هېواد د پولي واحد ارزښت را ټيټ شو او اوس ايرانی ريال د نړۍ په ټيټ ارزښت لرونکو پولي واحدونو له ډلې شمېرل کېږي.

۳ – د ويتنام دانګ

دانګ د ويتنام هېواد پولي واحد او د نړۍ دريیم ټيټ ارزښت لرونکی پولي واحد دی. دا مهال د يوې افغانۍ بيه ۲۹۸ دانګه کېږي. که څه هم اوس د ويتنام هېواد ډېر ناوړه اقتصادي وضعيت کې قرار لري، خو اقتصاد پوهان په دې باور دي چې ډېر ژر به ياد هېواد له دې بحراني حالت څخه ووځي. بايد وويل شي چې ناوړه اقتصادي وضعيت د ياد هېواد د پولي واحد ارزښت را ټيټ کړی دی.

۴ – اندونزيايي روپۍ

د اندونيزيا روپۍ د نړۍ څلورم ټيټ ارزښت لرونکی پولي واحد دی. دا مهال

»



یوه افغانۍ ۱۸۲ اندونیزیایي روپۍ کېږي. که څه هم د اندونیزیا هېواد اقتصاد په ډېر ښه وضعیت کې دی، خو بیا هم دا هېواد دا وړتیا نه ده تر لاسه کړې چې د خپل پولي واحد ارزښت لوړ کړای شي.

۵ – د ازبیکستان سام

سام د ازبیکستان پولي واحد او د نړۍ پنځم ټیټ ارزښت لرونکی پولي واحد دی. یوه افغانۍ دا مهال ۱۳۴ سامه کېږي. د ازبیکستان سام په ۱۹۹۴ زېږدیز کال کې بازار ته وړاندې شو او د دغه هېواد د پخواني پولي واحد ځای یې ونیو.

۶ – د سیرالیون لیون

لیون د سیرالیون هېواد پولي واحد دی. سیرالیون یو بې وزله افریقایي هېواد دی. په دې هېواد کې د اقتصادي وضعیت پر سر راغلې ناوړه اقتصادي حالت د دې لامل شوی دی چې یاد هېواد بې وزله پاتې شي او د پولي واحد ارزښت یې لوړ نه شي. یوه افغانۍ ۱۳۱ لیونه کېږي او دا مهال لیون د نړۍ شپږم ټیټ ارزښت لرونکی پولي واحد دی.

۷ – د ګانا فرانک

د ګانا فرانک د یاد هېواد پولي واحد دی. په ګانا هېواد کې د انفلاسیون لوړه کچه او خوارځواکي د دې لامل شوي دي چې د پولي واحد ارزښت یې ټیټ پاتې شي. دا مهال یوه افغانۍ ۱۳۰ ګانایي فرانکه کېږي. د ګانا هېواد پولي واحد د نړۍ اووم ټیټ ارزښت لرونکی پولي واحد دی.

۸ – د کیپ لائوس

لائوس د کیپ هېواد پولي واحد دی. که څه هم د دغه هېواد پولي واحد له چاپېدو څخه تر دې مهاله خپل ارزښت له لاسه نه دی ورکړی، خو دا پولي واحد له لومړي سره په همدې ارزښت چاپ شوی دی. دا مهال یوه افغانۍ ۱۱۸ لائوس کېږي.

۹ – د پاراګوای ګوراني

ګوراني د پاراګوای پولي واحد دی. پاراګوای د لاتیني امریکا دویم بې وزله هېواد دی. په دې هېواد کې د انفلاسیون لوړه کچه، اداري فساد، د زده کړو د کیفیت ټیټوالی، د بې وزلو وګړو زیاتوالی او بیکاري د دې لامل شوي چې د دغه هېواد د پولي واحد ارزښت ټیټ پاتې شي. ګوراني دا مهال د نړۍ نهم ټیټ ارزښت لرونکی پولي واحد دی او یوه افغانۍ ۸۷ ګورانۍ کېږي.

۱۰ – د کمبودیا ریل

د کمبودیا هېواد ریل د نړۍ لسم کم ارزښت لرونکی پولي واحد دی. د کمبودیا هېواد ریل په ۱۹۹۵ زېږدیز کال کې بازار ته وړاندې شو او د هندو چین د پولي واحد (پیاستر) ځای یې ونیو. د دغه هېواد د پولي واحد د ارزښت د ټیټوالي لامل د یاد هېواد د وګړو له لوري د ریل پر ځای په ډالرو راکړه او ورکړه ښودل شوې ده. دا مهال یوه افغانۍ ۵۲ کمبودیایي ریله کېږي.

د یادونې وړ ده چې له ۲۰۰۱ زېږدیز کال وړاندې د افغانستان پولي واحد هم د نړۍ د ټیټ ارزښت لرونکو پولي واحدونو په کتار کې ؤ، خو په ۲۰۰۱ زېږدیز کال کې کله چې په هېواد کې نوی حکومت رامنځته شو او د افغانیو نوي بانکنوټونه چاپ شول. د افغانیو ارزښت د پخوا په پرتله ډېر لوړ شو چې دا مهال د افغانستان پولي واحد خپلو یو شمېر ګاونډیو هېوادونو په پرتله په لوړ ځای کې قرار لري.●

ژباړه او زیاتونه

حسیب الله نوري

سرچینې:

1 - TOP 10 - The Weakest World Currencies in 2021

TOP 10 - The Lowest (Cheapest) World Currencies in 2021 - List | FXSSI - Forex Sentiment Board

۱ – بی ارزش ترین و با ارزش ترین پول های دنیا

بی ارزش ترین و با ارزش ترین پول های دنیا ؛ پول ایران کجای جهان است؟ | پلازامگ(plaza.ir)

# اقتصادي خبرونه

## بانک انکشاف آسیایی: برگشت رشد اقتصادی افغانستان در سال ۲۰۲۱ با وجود چالش ها

براساس یک گزارش جدید اقتصادی بانک انکشاف آسیایی، پیش بینی می گردد که رشد اقتصادی افغانستان بعد از کاهش چشمگیری در سال ۲۰۲۰ به علت شیوع ویروس کووید-۱۹ (کرونا) و ادامهٔ خشونت و بی ثباتی، در سال ۲۰۲۱ بهبود یافته و در سال آینده نیز رشد خواهد نمود.

بانک انکشاف آسیایی در چشم انداز انکشاف آسیا ۲۰۲۱ (Asian Development Outlook) که چندی قبل نشر گردید، پیشبینی می کند که رشد تولیدات ناخالص داخلی (GDP) افغانستان ۳ درصد در سال ۲۰۲۱ و با عادی شدن فعالیت های تجاری و اقتصادی، به ۴ درصد در سال ۲۰۲۲ افزایش خواهد یافت. بر اساس تخمین بانک انکشاف آسیایی، رشد اقتصادی در سال ۲۰۲۰ منفی۵ درصد به دلیل شیوع ویروس کووید-۱۹ و دوام خشونت و بی ثباتی، بوده است.

براساس این گزارش، تورم بیش از دو برابر یعنی از ۲،۳ در سال ۲۰۱۹ به ۵،۶ درصد در سال ۲۰۲۰ ناشی از افزایش قیمت مواد غذایی، افزایش یافته است. تورم مواد غذایی۱۰ درصد در سال ۲۰۲۰ بوده که نقطه اوج آن در ماه اپریل ثبت شده است، زمانیکه بسته شدن مرزها و خریداری های یک بارگی منجر به افزایش آن به ۱۶،۶ درصد گردید. پیشبینی می گردد که با بهبود عرضهٔ مواد غذایی، میزان تورم کاهش نسبی یعنی۵ درصد در سال ۲۰۲۱ و ۴ درصد در سال ۲۰۲۲، داشته باشد.




با این حال، چالش ها و خطرات از جمله عدم تطبیق واکسین در مناطق دور دست و ناامن، درگیری، جرایم، فساد، بی ثباتی سیاسی و شکنندگی های اجتماعی، هنوز وجود دارند. در صورت عدم رسیدگی به این چالش ها و خطرات، اینان می تواند تاثیرات چشمگیری بالای رشد اقتصادی داشته باشند.

بر اساس این گزارش، حمایت از تشبثات کوچک و متوسط (MSME) که ویروس کووید-۱۹ تاثیرات شدیدی بر آنها داشته است، جهت حفاظت از درآمد و امرار معاش کارگران، نقش اساسی دارد. قبل از شیوع کووید-۱۹، تشبثات کوچک و متوسط تقریباً برای ۱،۶ میلیون تن در سکتورهای خدماتی و صنعتی زمنیه های اشتغال فراهم نموده بودند. دولت یک بستهٔ حمایتی دو ساله به ارزش ۲۹۵ میلیون دالر را در اکتوبر سال ۲۰۲۰، بمنظور بهبود شرایط کسب و کار منظور کرد و اقدامات مناسبی را بشمول حمایت از تشبثات کوچک و متوسط، روی دست گرفت.

افغانستان جهت بهبود محیط کسب و کار باید دسترسی تشبثات کوچک و متوسط به بازار را از طریق توسعه زیربناها، بهبود امنیت، مبارزه با فساد، ساده سازی مقررات، «




تقویه حقوق مالکیت، تطبیق قرارداد، ابتکارات و بهبود مهارت های کارگران، تسهیل کند. افزایش دسترسی به قرضه و توسعه قرضه دهی از طریق بانک ها نیز یک موضوع مهم می باشد.

بانک انکشاف آسیایی در حالیکه تلاش های خود برای ریشه کن کردن فقر شدید را ادامه می دهد، به دستیابی به آسیا–اقیانوسیه، مرفه، فراگیر، انعطاف پذیر و پایدار متعهد است. این بانک در سال ۱۹۶۶ تأسیس گردیده و دارای۶۸ عضو – شامل ۴۹ عضو آن از منطقه می باشد.

## نړیوال بانک: افغانستان سره د ځان بسیاینې په برخه کې مرستو ته ژمن یو

د جنوبي اسيا هېوادونو لپاره د نړيوال بانک مرستيال له افغانستان سره پر همکاريو ټينګار کړی او زياته کړې ده چې دغه هېواد د نړيوالې ټولنې مرستو ته اړتيا لري.

هارتويګ شيفر کابل ته د خپل درې ورځني سفر په پای کې ويلي: "نړيوال بانک له نورو پراختيايي شريکانو سره په ګډه له افغانستان څخه خپل ملاتړ ته دوام ورکوي او ژمن دی څو له دې هېواد سره د يوې پايښت لرونکې اقتصادي ودې او ځان بسياينې په برخه کې مرسته وکړي".

ښاغلي شيفر زياته کړې چې افغانستان تر بل هر وخت له کرونا ويروس څخه اغېزمن شوی او په خبره يې زياتو مرستو ته اړتيا لري.

نړيوال بانک تر دې مخکې په افغانستان کې له کرونا ويروس سره د مبارزې او د اقتصادي اغېزو د مخنيوي لپاره له دغه هېواد سره د ۳۹۳ ميليون ډالرو مرستې ژمنه کړې وه.

د نړيوال بانک د معلوماتو پر اساس د کرونا ويروس، د سياسي او امنيتي کړکيچ او د نړيوالې ټولنې د مرستو احتمالي کمېدو له امله د افغانستان اقتصادي وده ورو شوې ده.

د ياد بانک په اعلاميه کې راغلي: "تمه کېږي چې د دې هېواد اقتصادي وده په ۲۰۲۱ کال کې يو سلنه وي او په ۲۰۲۲ کال اټکل کېږي چې درې سلنې ته ورسېږي.

وړاندوينه کېږي چې د افغانستان دولت به په راتلونکو کلونو کې هم د روغتيا، ښوونې او روزنې، له خصوصي سکتور د ملاتړ، د کاري آسانتياوو د رامنځته کولو او له خورا بېوزلو او زيانمنونکو خلکو او ټولنو سره د مرستې په برخه کې د نړيوالې ټولنې مالي مرستو ته اړتيا ولري".

د نړيوال بانک د معلوماتو په اساس افغانستان د بيا رغونې صندوق او نړيواله پراختيايي اداره چې له بېوزلو هېوادونو سره د نړيوال بانک د وړيا مرستو څانګه ده، په ګډه هر کال يو ميليارد ډالر مالي مرسته افغانستان ته چمتو کوي.•

سرچينې:
۱–وزارت ماليه بانک انکشاف آسيايي: برگشت رشد اقتصادی افغانستان در سال ۲۰۲۱ با وجود چالش ها | وزارت ماليه(mof.gov.af)
۲–د امريکا غږ: https://www.pashtovoa.com/a/world-bank-aid-for-afghanistan-/5925023.html



# اهمیت سرمایهٔ انسانی در اقتصاد

نیروی انسانی در قسمت تولید کالاها و ارائهٔ خدمات در جوامع بشری به عنوان عامل اصلی شناخته شده است. توجه در این عرصه بر متولیان امور و کارشناسان مدیریت انسانی با اهمیت بوده و مدیران نیروی انسانی از آن گریزی ندارند، زیرا پیشرفت تکنالوژی بدون تحولات نیروی انسانی فاقد کارآیی است.

در شرایط کنونی، تزریق منابع مالی به عنوان فاکتور اصلی توسعه بشمار نرفته، بلکه تحولات رو به رشد نیروی انسانی سبب ارتقا و توسعهٔ نظام اقتصادی در جهان می گردد. حالا سرمایهٔ انسانی، سرمایهٔ مادی را تعیین می کند، زیرا هر ماشین یک ظرفیت تعین شده را دارد که بیشتر از آن نمی توان از ماشین انتظار داشت. به

»

همین ترتیب دستگاه ها و سازمان های پیشرو در عرصهٔ رقابت، محتاج انسان های هوشمند و دانش آفرین است.

در جهان امروزی، بسیاری از شرکت ها و برندهای بزرگ و پر قدرت بین المللی با تکیه بر سرمایه انسانی دانش محور به خلق و ایجاد ثروت های افسانوی مبادرت ورزیده اند. از طرف دیگر، سرمایهٔ انسانی در فضای رقابتی امروز جهان، از جمله مهمترین و با ارزش ترین سرمایهٔ کشور ها شمرده می شود.

روی همین علت است که شناسایی، جذب و بکار گیری سرمایهٔ انسانی بخش مهمی از تصمیم گیری های سیاست گذاران اقتصادی را تشکیل داده و مدیریت سرمایه گذاری را روز بروز پیچیده تر می سازد.

رقابت یکی از دغدغه های جدی نهادهای اقتصادی را تشکیل داده و نهادهای اقتصادی بخاطر حفظ بقا و دست یابی به اهداف خود مجبور اند تا در برابر رقبای خود مزیت ها و توانایی کارهای خود را برجسته سازند.

در دههٔ اخیر نهاد های اقتصادی بیش از پیش به اهمیت منابع بشری پی برده و برای بهره برداری از آن تحقیقات و تلاش های زیادی را آغاز نموده اند. نتیجهٔ تحقیقات شان این بوده که سرمایه گذاری در منابع بشری باعث ایجاد مزیت رقابتی می گردد. مرکز آمارگیری امریکا در سال ۲۰۰۹ در پی پژوهشی روی توسعهٔ انسانی دریافت که سرمایه گذاری در منابع انسانی تأثیر مثبتی بر عملکرد و بهره وری شرکت ها دارد.

در این اواخر اقتصاد جهانی با یک تجربهٔ جدید روبرو شده و این تغییر عبارت از گذر از جامعهٔ صنعتی به یک جامعهٔ مبتنی بر دانش است. این بدان معنا است که کارکنان و سرمایهٔ انسانی پیش از گذشته برای ارگان های اقتصادی ارزشمند بوده و دارایی های فزیکی نسبت به آن، از ارزش کمتری برخوردار می باشد.

این تغییرات به علت موجودیت تکنالوژی های نوین، بخصوص انترنت و رشد روز افزون اطلاعات به میان آمده است. اطلاعات امروز به بسیار سهولت در اختیار مردم قرار گرفته و استفادهٔ بهینه از آن می تواند به عنوان مزیت رقابتی سرمایه های انسانی محسوب و به عنوان مزیت رقابتی سرمایه های انسانی به شمار آید.

در عصر حاضر، اکثر شرکت ها بیشتر بر اساس اطلاعات و خدمات جدید استوار بوده و مطابق آن بر اساس دارایی های به روز شان مانند گوگل، مایکروسافت، فیسبوک، اپل و غیره مبتنی بر اطلاعات بوده و از جمله شرکت های معروف دنیا هستند.

عبدالحفیظ شاهین

منابع:
۱. عنوان /نقش روش های سرمایه گذاری سازمان بر ارزش آفرینی منابع انسانی با نقش میانجی سرمایه انسانی/ نویسنده: رضا سپهوند تاریخ نشر: ۲۷/۱/۱۳۹۳ https://jmsd.atu.ac.ir-1 /
۲. عنوان /ارزش آفرینی منابع انسانی با رویکرد خلاقیت و نوآوری/ تاریخ نشر سال ۱۳۹۲/ https://civilica.com
۳. عنوان /توسعه منابع انسانی، راهبرد مؤثر در مسیر رشد اقتصادی تاریخ نشر ۳/۲/۱۳۹۳ https://donya- e- qtesad.com/

# له رسمي دندې سربېره، د دې چارو په تر سره کولو سره پیسې وګټئ




که دنده لرئ او دومره حق الزحمه نه درکول کېږي چې د ژوند چارې مو په ښه ډول مخته یوسئ، نو یوازې په همغې دندې بسنه مه کوئ. دا مهال نوې تکنالوژۍ هر څه ته لاسرسی ډېر آسانه کړی دی او تاسو د دې تکنالوژۍ پر مټ کولای شئ له رسمي وخت پرته په کور کې هم کار وکړی او له دې لارې پیسې تر لاسه کړئ.

که تاسو له رسمي دندې وروسته د ځان لپاره داسې بوختیاوې پیدا کړی چې پر بنسټ یې د پیسو ګټلو تر څنګ ستاسو وړتیاوې هم لوړې کړي، دا به مو د روښانه راتلونکې په لور ستر ګام دی.

په دې مقاله کې په لاندې ډول د داسې لارو چارو په اړه معلومات وړاندې کېږي چې تاسو کولای شئ په ټاکنې سره یې د رسمي دندې تر څنګ بله دنده هم تر سره کړای شی.

د ټولنیزو شبکو څخه ګټه پورته کړی

د ننني نړۍ د خلکو ډېری وخت په ټولنیزو شبکو کې تېرېږي، که تاسو هم له همدې ډلې خلکو یاست بیا نو، له خپل تخصص ګټه پورته کړئ او پیسې وګټئ. دا مهال ډېرئ کمپنۍ غواړي په ټولنیزو شبکو کې شتون ولري او د دې کار لپاره

»

داسې کسانو ته اړتیا لري چې وکولای شي په دې شبکو کې د یادو کمپنیو حضور وړاندې کړای شي. که له خپلې رسمي دندې سربېره مو داسې دنده هم پیدا کړه له داسې پلټفرمونو ګټه پورته کړئ چې پر مټ یې په یو وخت څو اکونټونه اداره کړئ او د پوستونو د خپرېدو لپاره مهال ویش په کې جوړ کړئ.

**ژباړه او لیکنې**

ژباړه او لیکنې له رسمي دندې سربېره د پیسو ګټلو تر ټولو غوره لار ده. دا مهال د نړۍ په کچه ډېر زیات شمېر خلک په دې دنده بوخت دي. دوی د بېلابېلو موضوعګانو په اړه ژباړې او لیکنې کوي. په یاد ولرئ چې دا چاره د پیسو ګټلو تر څنګ تاسو ته نیک شهرت هم درکوي.

**وړتیا مو وپلورئ**

ټولې هغه وړتیاوې چې تاسو یې لرئ د یو برېښنایي کتاب په بڼه را غونډې کړئ او له دې لارې یې پر هغو کسانو چې غواړي په اړونده برخه کې زده کړې وکړي وپلورئ. نننۍ نړۍ د بېلابېلو مسلکونو لرونکو ته اړتیا لري، که تاسو د هرې برخې مسلکي یاست نو هڅه وکړئ د خپلې وړتیاوې په هغو کسانو وپلورئ چې غواړي ستاسو مسلک زده کړي. له یاده مه باسئ چې تاسو باید د خپلو مسلکي وړتیاوو تر څنګ د پېرودونکو د جلب وړتیا هم ځان کې ولرئ. دا دنده پوله نه لري او کولای شی خپلې ټولې وړتیاوې له دې لارې د نړۍ په هر ګوټ کې له هر ډول لګښت پرته وپلورئ.

**اپلیکېشن جوړ کړئ**

د پرمختګونو په نننۍ نړۍ کې د هر کار لپاره له دې وروسته اپلیکېشن اړین دی. دا یو نوی صنعت دی چې نن سبا یې ډېر کش پیدا کړی دی. معلومات ښیي آیفون کمپنۍ یوازې په ۲۰۱۴ زیږدیز کال کې د خپل اپلیکېشن جوړولو لپاره ۴ زره کسان په دندو ګمارلي وو. که تاسو په معلوماتي تکنالوژۍ کې د هرې برخې مسلکي یاست هڅه وکړئ چې له دې لارې خپل خدمتونه وپلورئ.

**ګرافیک ډیزاین**

ګرافیک ډیزاین د نړۍ په ګوټ ګوټ ستاسو په درد خوري. ګرافیک ډیزاین ستاسو په علاقه پورې اړه لري، که تاسو له دې برخې سره لیونۍ مینه ولرئ په یوازې ځان یې زده کولای شئ. په بازارونو کې د هر څه لپاره ویډیویي درسونه شته که غواړئ چې ګرافیک دیزاین زده کړئ، دا یې د زده کړې یوه آسانه لار ده. ډاډمن یم چې که تاسو ښه ګرافیک ډیزاینر و اوسئ هېڅ وخت به بېکاره نه شئ او له دې لارې به پیسې تر لاسه کوئ.

ژباړه او زیاتونه

حسیب الله نوري

---

سرچینې:

1 - Lost your job? Or are you short on money? Here are 7 ways to earn while staying at home/ET CONTRIBUTORS Last/ Updated: Aug 19, 2020, 10:04 AM IST https://economictimes.indiatimes.com/wealth/earn/lost-your-job-or-are-you-short-on-money-here-are-7-ways-to-earn-while-staying-at-home/articleshow/77559625.cms?from=mdr

2 - 24 Best Online Jobs from Home – No Investment (Trending after Covid-19)/By Pritam Nagrale



# د ۲۰۲۱ زیږدیز کال تر ټولو شتمنې ښځې

په نننی پرمختللې نړۍ کې د نارینه تر څنګ داسې ښځې هم شته چې ډېری خلک یې شتمنیو ته ګوته په غاښ دي. په دې مقاله کې په ۲۰۲۱ زیږدیز کال کې د نړۍ د لسو هغو شتمنو ښځو په اړه معلومات شریکوو چې په خپل غوره مدیریت سره یې دا پانګې را خپلې کړې دي.

»



**فرانسوا بتانکور مایرز (Françoise Bettencourt-Meyers)**

**شتمني: ۷۳.۶ میلیارد امریکایي ډالر**

مایرز په ۲۰۲۱زېږدیز کال کې د نړۍ تر ټول شتمنه ښځه ګڼل شوې ده. مایرز د لورئال ښکلا او سینګار توکو د شرکت څښتنه ده. لورئال په نړۍ کې د سینګار توکو تر ټولو لوی شرکت دی. مایرز ۶۷ کلنه ده په فرانسه کې زېږېدلې او د خپلې شتمنۍ زیاته برخه یې له خپلې مور لیلیان بتانکور څخه په میراث وړې ده. کله چې د نوموړې مور وفات شوه، مایرز ته د لورئال شرکت ۳۳ سلنه برخه ورسېده او دا مهال د نړۍ لومړۍ شتمنه ښځه ګڼل کېږي.



**آلیس والتون (Alice Walton)**

**شتمني: ۶۱.۸ میلیارد امریکایي ډالر**

آلیس والټون د امریکا هېواد اوسېدونکې ۷۱ کاله عمر لري او د والمارټ شرکت سهم لرونکې ده. نوموړې کار او کسب د ماشومتوب له مهاله له خپل پلار زده کړ او د یاد شرکت لویه سهم لرونکې شوه. په ۲۰۲۰ زېږدیز کال کې د امازون شرکت د توکو وړیا ترانسپورتي چوپړونه د دې لامل شول چې د یاد شرکت ګټه زیاته او د تېر کال په پرتله زیاته شي.



**مکنزي سکاټ (Mackenzie Scot)**

**شتمني: ۵۳ میلیارد امریکایي ډالر**

مکنزي سکاټ د جف بزوس پخوانۍ مېرمن ده ( جف بزوس د امازون خرده پلورنځي شرکت خاوند) نوموړې د نړۍ له شتمنو کسانو شمېرل کېږي. دوی دواړو ۲۵ کاله ګډ ژوند وکړ او په ۲۰۱۹ زېږدیز کال کې له یو بل څخه جدا شول. سکاټ امریکایۍ ده او ۵۰ کال عمر لري. مکنزي د جف بزوس د شرکت د هغو کارکوونکو له ډلې ده چې د شرکت رامنځته کېدو پر مهال یې خپله دنده پیل کړه.

دا چې د امریکا قانون مېرمنې ته د خاوند په مال کې نیمایي برخه ورکړې ده، نو د همدې قانون پر بنسټ مکنزي له خپل خاوند څخه د طلاق تر اخیستلو وروسته د امازون شرکت ۵۰ سلنه سهم تر لاسه کړ او د نړۍ د لسو شتمنو ښځو په نوملړ کې یې درېیم مقام خپل کړ.



**جولیاکوخ (Julia Koch & family)**

**شتمني: ۴۶.۴ میلیارد امریکایي ډالر**

جولیاکوخ ۵۸ کلنه ده. هغه او بچیان یې دا مهال په کوخ شرکت کې ۴۲ سلنه برخه لري. دا شرکت یو لوی امریکایي شرکت دی چې مشري یې د ډیوېډ کوخ مشر ورور کوي او په یاد شرکت کې هغه هم ۴۲ سلنه سهم لري.



**میریام ادلسون (Miriam Adelson)**

**شتمني: ۳۸.۲ میلیارد ډالر امریکایي**

ادلسون دا مهال د لاس ویګاس ګازینو شرکت ۵۶ سلنه برخه سهم لرونکې ده. دا شرکت د شلډون ادلسون ؤ چې د نوموړي تر مرګ وروسته یې یاده برخه د نوموړي مېرمنې میریام ادلسون ته ورسېده. دې شرکت په ۲۰۲۰ زېږدیز کال کې په ټوله نړۍ کې د قرنطین له کبله ۹۸۵ میلیون امریکایي ډالر تاوان وکړ.



**ژاکلین مارس (Jacqueline Mars)** / شتمني: ۳۱.۳ میلیارد امریکایي ډالر

ژاکلین مارس امریکایۍ ده. دا نوموړې مدیره ۸۱ کاله عمر لري. نوموړې او ورور یې جان هر یو د مارس ان کارپوریټډ شرکت څلوېښت سلنه سهم لرونکي دي.

ژاکلین د فارست مارس لور او د فرانک سي لمسۍ ده. فرانک سي د مارس اِنکارپوریټډ شرکت بنسټګر دی. نوموړې له ۱۹۱۱ زېږدیز په یاد شرکت کې دنده پیل کړه او شل کاله یې هلته کار وکړ او د دې شرکت د مدیره هیئت غړې وټاکل شوه.



**یان هویان (Yan Huiyan)** / شتمني: ۲۹.۶ میلیارد امریکایي ډالر

هویان د نړۍ د ځوانو شتمنو ښځو له ډلې شمېرل کېږي. نوموړې ۳۹ کلنه او د چین هېواد ده. هویان د املاکو په برخه کې کار کوي. نوموړې د خپلې شتمنۍ سمه نیمه برخه له خپل پلار په میراث وړې ده. د هویان پلار یانګ ګوکیانګ د کنټري ګارډن شرکت په ۱۹۹۷ کال کې جوړ کړ او په ۲۰۰۷ زېږدیز کال کې یې د خپل شرکت ۵۰ سلنه برخه خپلو لورګانو ته ورکړه. په ۲۰۲۰ زېږدیز کال کې کرونا وبا د خپرېدو او قرنطین له امله ۱۴ سلنه سهم را ټیټ کړ.



**سوزان کلاتن (Susanne Klatten)** / شتمني: ۲۷.۷ میلیارد امریکایي ډالر

سوزان کلاتن په ۱۹۶۲ کال کې په آلمان کې زېږېدلې ده. نوموړې د ام بي ډبلیو موټر جوړونې شرکت له اصلي سهم لرونکو او مدیرانو شمېرل کېږي. کلاتن د خپلې کورنۍ د غړو سره په ګډه د یاد شرکت ۵۰ سلنه برخه سهم لري.



**جینا رینهارټ (Gina Rinehart)** / شتمني: ۲۳.۶ میلیارد امریکایي ډالر

رینهارټ د آسترالیا هېواد تر ټولو شمتنه ښځه ده چې د کان کیندنې او کرنې د هانکاک پروسپیکټینګ ګروپ په نوم شرکت لري. دا شرکت د نوموړې د پلار لینګ هیناک له لوري په ۱۹۹۲ زېږدیز کال کې جوړ شو. که څه هم یاد شرکت د ۲۰۲۰ زېږدیز کال په لومړیو کې د کرونا وبا د خپرېدو له کبله زیانمن شو، خو دا مهال مخ پر وده دی او تمه کېږي چې په نږدې راتلونکې کې به د لا زیاتو پرمختګونو شاهد وي.



**ایریس فونټبونا- کورنۍ (Iris Fontbona& family)** / شتمني: ۲۳.۳ میلیارد امریکایي ډالر

ایریس ۷۸ کلنه او د چیلي هېواد تابعیت لرونکې ده. نوموړې د آندروونیکو لوکسیچ کونډه ده چې د ښنباك او کانونو شرکت لري. ایریس او اولادونه یې د یاد شرکت چارې پرمخ وړي. دوی په ۲۰۲۰ زېږدیز کال کې ۵.۱ میلیارد امریکایي ډالر پلورنه درلوده او دا لامل شو چې نوموړې د نړۍ د لس شتمنو ښځو په کتار کې راشي.


سرچینې:

DenizÇamForbes Staff Apr 6, 2021/ The Top Richest Women in The World in 2021/ - 1

forbes.com

top 10 richest women in the world; Net worths are as of March 18, 2020 - 2

https://www.forbes.com/sites/kristinstoller/2020/04/07/the-top-10-richest-women-in-the-world-2020/#253ea48e4776

# خبر تیا!

## د پولي خدمتونو وړاندې کوونکي او صرافان له خلکو سره د پولي لېږدونو او مبادلو پر مهال باید د مشتري د پېژندنې لپاره لاندې موارد په جدي توګه په پام کې ونیسي:

۱. د پولي خدمتونو وړاندې کوونکي او صرافان د پولي خدمتونو د وړاندې کولو په موخه اړه دي څو د مشتریانو هویت تشخیص او تثبیت کړي.

۲. د پولي خدمتونو وړاندې کوونکي او صرافان اړ دي، که چېرې مشـــتري ذینفع شخص (واقعي مالک) نه وي، د مشـــتریانو د هویت له پېژندنې او تثبیت پرته ورته خدمتونه نه وړاندې کیږي.

۳. د پولي خدمتونو وړاندې کوونکي او صرافان اړ دي چې په لاندې حالاتو کې د خپل مشتري هویت تشخیص او تثبیت کړي.

- له سوداګریزې معاملې مخکې او د ترسره کېدو پر مهال؛
- د هېواد دننه او بهر ته د پیسو له لېږد څخه مخکې؛
- که چېرې د پیسو وینځلو او د ترهګرۍ د تمویل ګومان موجود وي؛ او
- تصادفي مشتري لپاره د معاملې ترسره کول

٤. که چېرې د مشتري معامله ( د پیسـو لېږد) له ۵۰۰۰۰ افغانۍ څخه کمه یا معادل یې په نورو اسعارو وي، د پولي خدمتونو وړاندې کوونکي باید لږ تر لږه لاندې معلومات او سندونه د مشتري د هویت د تثبیت لپاره ترلاسه کړي:

۱. که چېرې شخص انفرادي (حقیقي) وي:

- د مشتري بشپړ نوم؛ دنده او پته؛ او د اړیکو شمېره

۲. که چېرې شخص حکمي وي:

- د شرکت، مؤسسې یا حکمي شخص بشپړ نوم او پته او د معاملې د واک لرونکي شخص شهرت

۵. که چېرې مشـــتري حقیقي شخص وي او د ( پیســـو د لېږد) معامله له ۵۰۰۰۰ څخه تر ۱۰۰۰۰۰ افغانۍ یا معادل یې په اسعارو وي، د پولي خدمتونو شرکت باید د دې مادې د ۴ فقرې د ۱ بند سـربېره د یاد شـخص د تابعیت تذکره، پاسـپورټ، د ډریورۍ جواز یا د دولتي اداري د هویت کارټ چې لږ تر لږه انځور، د صادرېدو او انقضاء نېټه ولري، تر لاسه کړي.

۶. که چېرې مشتري حقیقي شخص وي او د ( پیسو د لېږد) معامله یې له ۱۰۰۰۰۰ څخه تر ۵۰۰۰۰۰ افغانۍ یا معادل یې په اسعارو وي. د پولي خدمتونو وړاندې کوونکي باید د دې مادې د ۴ فقرې له ۱ بند سربېره لږ تر لږه د مشتري د تذکرې کاپي او یا معتبر پاسپورټ تر لاسه کړي.

۷. که چېرې مشتري حکمي شخص وي او د ( پیسو د لېږد) معامله یې له ۵۰۰۰۰ څخه تر ۱۰۰۰۰۰۰ افغانۍ یا معادل یې په اسعارو وي. د پولي خدمتونو وړاندې کوونکي د مشـتري د هویت د تثبیت په موخه د دې مادې د ۴ فقرې د ۲ بند سربېره د مشـتري د فعالیت د معتبر جواز کاپي ترلاسه کړي.

۸. که چېرې مشـتري حقیقي شخص وي او د ( پیســـو د لېږد) معامله یې له ۵۰۰۰۰ افغانۍ زیاته یا معادل یې په اسعارو وي. د پولي خدمتونو وړاندې کوونکي باید د مشـتري د پېژندنې په برخه کې د مشـتري د پېژندنې د عادي تدابیرو سربېره د مشـتري د پېژندنې لپاره لاندې شدیده تدابیر هم په پام کې ونیسي:



- د پیسو د سرچینې په اړه د معلوماتو ترلاسه کول؛ او
- د معاملې موخې او په دې تړاو د حمایوي سندونو ترلاسه کول.

۹. که چېرې مشتري حکمي شخص وي او د ( پیسو د لېږد) معامله یې له ۱۰۰۰۰۰۰ څخه تر ۳۰۰۰۰۰۰ یا معادل یې په اسعارو وي. د پولي خدمتونو وړاندې کوونکي باید د مشتري د پیژندنې په برخه کې د ۳۳ مادې د ۲ فقرې له مخې د مشتري د پیژندنې د الزامي ( د مشتري د پیژندنې د شدیده تدابیرو ) او د دې مادې د ۷ فقرې د مشتري د پیژندنې د عادي تدابیرو سربېره باید د مشتري د پیژندنې شدید تدابیر هم تر لاس لاندې ونیسي. دا تدابیر لاندې موارد رانغاړي، خو ورته محدود نه پاتې کیږي:

- د پیسو د سرچینې په اړه د معلوماتو ترلاسه کول، او
- د معاملې موخې او په دې تړاو د حمایوي سندونو ترلاسه کول.

۱۰. که چېرې مشتري حکمي شخص وي او د ( پیسو د لېږد) معامله یې له ۳۰۰۰۰۰۰ څخه زیاته یا معادل یې په اسعارو وي، د اړتیا وړ سندونو ( د مشتري د پیژندنې د شدیده تدابیرو) د وړاندې کولو سره سره، د پولي خدمتونو وړاندې کوونکي باید د مشتري د پیژندې په برخه کې د دې مادې د ۹ فقرې سربېره لاندې تدابیر هم تر لاس لاندې ونیسي:

- د اساس نامې د کاپي ترلاسه کول؛
- د سوداګرۍ د ماهیت او د مشتري د فعالیت پیژندنه؛
- د دې مادې د ۴ فقرې پر بنسټ د شرکت د ونډه لرونکو او د کلیدي مسوولینو شهرت
- له معتبرې سرچینو څخه د شته مدارکو او معلوماتو په کارونې سره د اصلي مالکینو د هویت تثبیتول ( د اړتیا په صورت کې)؛

۱۱. د پولي خدمتونو وړاندې کوونکي او صرافان اړ دي څو د سوداګریزې معاملې په اوږدو کې د مشتریانو او د هغه د واقعي مالکینو په تړاو معلومات راټول او وساتي. د مشتري د پیژندنې په تړاو معلومات او مدارک په منظمه توګه مرور او اپډیت ساتل کیږي.





# سوداګریز بانك

سوداګریز بانك هغه بانك ته ویل کېږي چې د خلکو سپماوې او نور پولي امانتونه ترلاسه کوي او پانګوالو او عادي اشخاصو ته معمولاً د لنډ مهاله او منځمهاله پورونو په توګه مالي امکانات برابروي.

سوداګریز بانکونه د پورونو د ورکړې په بدل کې ګټه ترلاسه کوي چې دې ګټې ته ټکتانه یا ربح هم ویل کېږي.



# کارکنان برتر ربع اول سال مالی ۱۴۰۰ د افغانستان بانک



**اسد الله سروری**

مدیر ارشد نظارت تکنالوژی معلوماتی و سیستم ها
آمریت عمومی نظارت بانکی



**محمد احسان حسن زاده**

مدیر ارشد انتقالات نقدهٔ
آمریت عمومی عملیات بانکی



**دانش توخی**

آفیسر ارشد اداری و اجرائیوی
آمریت عمومی حقوقی



**زلمی سائیس**

آفیسر ارشد سوانح و معلومات کارکنان
آمریت عمومی منابع بشری



**عبدالمجید محب زاده**

چای دار باشی
آمریت عمومی دفتر ریاست

# تویت های اقتصادی

**Da Afghanistan Bank- Afghanistan** @AFGCentralbank · Apr 26

بدینوسیله به اطلاع همه صرافان و عرضه کننده گان خدمات پولی رسانیده میشود که د افغانستان بانک غرض ارایه تسهیلات بیشتر به صرافان و فراهم کنندگان خدمات پولی، مدیریت حواردهی آمریت نظارت از مؤسسات مالی غیر بانکی را از دفتر مرکزی د افغانستان بانک...

facebook.com/AFGCentralbank...



1 18

**Da Afghanistan Bank- Afghanistan** @AFGCentralbank · Apr 27

7 ثور 1400 – د افغانستان بانک بمنظور تسهیل شرایط فرصه دهی از سوی بانکهای تجارتی به صنعت کاران، تشبثات، رشد سکتور زراعت و پیشه وران امروز سه تفاهمنامه جداگانه سه جانبه و چهار جانبه را با اتاق صنایع و معادن افغانستان، اتاق محصولات زراعتی و مالداری،فدراسیون..

facebook.com/AFGCentralbank...



5 34

**Ministry of Finance - Afghani...** · 29 Apr

د اسیا پراختیایي بانک د تازه راپور له مخې، تمه کېږي چې د افغانستان اقتصادي وده په ۲۰۲۰ کال کې د کووید-۱۹ وبا او دوامداره ناوتریخوالي او بې ثباتۍ له امله له چټک نزول وروسته، سږ کال بېرته را ورغېږي او راتلونکي کال ته به چټکه شي.

bit.ly/32YKBak




2 11

**Da Afghanistan Bank- Afghanistan** @AFGCentralbank · May 5

۱۴۰۰ کال د غوایی ۱۵ مه – د افغانستان بانک د سرپرست ښاغلی اجمل احمدی په مشری د صرافانو د ټولالي شورا د رئیس او زیات شمیر صرافانو او د پولي خدمتونو له وړاندې کوونکو سره غونډه جوړه شوه.

facebook.com/AFGCentralbank...



3 19

**Ministry of Finance - Afghan...** · 27 May

سرپرست وزارت مالیه افغانستان با وزیر همکاری های انکشافی و تجارت خارجی وزارت امور خارجه کشور فنلند روی مسایل مهم چون انکشاف اقتصادی، کاهش فقر، خودکفایی، همکاری ها در عرصه های مختلف انکشاف اقتصادی و پیشرفت ها در زمینه تعهدات کنفرانس جینیوا بشکل آنلاین دیدار و گفتگو کرد.

pic.twitter.com/6NGDTY7djX



5 22

**Ministry of Finance - Afghan...** · 30 May

ششمین اجلاس گروپ کاری اول انکشاف سکتور مالی در رابطه به نهایی سازی توافقنامه انتقال حسابات بانکی میثاق شهروندی از د افغانستان بانک به بانک های تجارتی، صحت و مالی، تبادل نظر تصدی ملی محافظت عامه در رابطه به طرح تخفیف در ارایه خدمات امنیتی به بانک های خصوصی دایر گردید.

pic.twitter.com/qM4xpD2xBn



2 16

# بانک

ماهنامۀ د افغانستان بانک

سال چهاردهم شماره ۱۶۷، ثور ۱۴۰۰



## ملي پيسې، د ملي يووالي سمبول او زموږ د هېواد د ملي اقتدار نښه ده